مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی

۲۰۱۹/۰۵/۰۴

# سوله او تنظيمونه

په باميانو کې د ايران د قونسلګرۍ له جوړيدو د مخه، د هيواد د دوه مليونو کوچيانو غټ شمير به د اوړي په موسم کې په اوښانو کې پړي واچول او د ايلبندونو په تکل به د باميان او دايکندي په لور رهي شول. د کرزي صيب د حکومت د کش او فش لمړۍ مياشتې وې چې يو څو ځايي بانده چيانو او بزګرانو د احتجاج په توګه د کوچيانو خلاف غږ پورته کړ. خبره سوکه سوکه ټوپکمارو او بيا د حزب وحدت سياسي مشرانو ته ورسيده.
سره ددی چې ښاغلي خليلي هغه مهال د ولسمشر دويم مرستيال وو، خو دا چې خپل، خپل او پردي په ډيرو نارو خپل وي، نو دوئ هم د خپل قوم له نورو مشرانو سره يوځای هغې خيمې ته سر دننه کړ چې د اعتراض پخاطر لګيدلې وه. مګر خليلي صيب اوس د سولې د شورا رئيس دی او انګيرنه دا وه چې نوموړی به د مشورتي لويې جرګې د مشرۍ شمله په سر تړي او د يو ځانګړي قوم د غوښتنې په ځای به دا ځل د ټول ملت د برحقې داعيې ملاتړ کوي.
د سولې د شورا مرستيال، ښاغلي حاجي دين محمد، طبيعتا يوه سوله خوښې او د روغې جوړې سړی دی. خو هغه د پيښوريانو خبره، پته نه لګي چې کوم لالچ يی مخه ډب کړه، کنه نو تمه خو دا وه چې هغه به د ستيج په سر دريږي او د غره غوندی دوو سترو شهيد حاجی عبد القدير او شهيد عبدالحق د ځوانيمرګو ارمانو کړيکه به د جرګې د ګډون والو تر غوږونو رسوي. ټولو ته جوته ده چې نورو له کربوړو زمري جوړ کړل، خو دغه دوه وروڼه لا له پخوا څخه زمري او د کار سړي وو.
د ډاکټر نجيب د را پراځيدو دا دی ۲۷ کاله وشول، د طالب جان له پنځه کلن امارت پرته، جمعيت اسلامي د هيواد د واک او ځواک غوښنه برخه پخپل لاس کې لري، د شين بيرغ په ټنډه يی د ( واعتصموا بالله جميعا و لاتفرقوا) مبارک آيت ليکلي او بنسټګر يی د هيواد پخوانی ولسمشر استاذ رباني د سولې شهيد بلل کيږي. ځومره به ښه وه که د شهيد استاذ لارويانو د هغه د روح د تسکين پخاطر، دی جرګې ته د نمايش او فرمايش په سترګه نه وای کتلي او دغه تاريخي غونډه يی پخپل ګډون سره لا زياته درنده کړی وای.
ښاغلي عبدالله عبدالله چې د ملي يو والي د حکومت نيم په نيمه حقدار او واکدار دی، خپله نماينده ګي يی هغه ستر انځور ته پريښې وه چې د تالار په کيڼ اړخ کې لګيدلی او ښه تر او تازه بريښيده. د مهربانه ګاونډيانو د سخاوت له برکته، شکر دی زموږ په وطن کې اوس د آيت الله ګانو کمې نشته، خو د شخصيت، عمر او پوهې له بابته، ښاغلی آيت الله آصف محسني د ګوتو په شمار خلکو کې حساب او ددی آيت په معنی ښه پوهيږي چې ( فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُم - له الله و ډاريږئ او پخپلو منځونو کې سوله وکړئ) مګر هيڅوک پوه نشول چې لدی غونډې سره به د محسني صيب د تحريم لامل څه وو؟
پرون يو مدني فعال پخپل ټويټر کې وليکل: د اتمر صيب نه ګډون د هغه مجبوريت دی ځکه چې د خپلو نوو جهادي يارانو زړه نه شي ازارولی، کنه نو هغه د سياست او فرصتونو په سر او تال ښه پوهيږي. همدغه فعال د ښاغلي محقق په اړه کاږي: استاذ محقق ځکه غلی دی چې موضوع لويه مشورتي جرګه ده او نوبت يی ښاغلي اشرف غني کړيدی، که چيری خبره د فاطميون د لښکر وای، نو شک نشته چې د هغه غږ به تر هرچا لوړ وو.
د حزب اسلامي مشر ښاغلي حکمتيار د شمشاد له ټلويزيون سره په يوې وروستۍ مرکه کې ښه په واز کومي وويل ( له حزب اسلامي سره د سولې معاهده د افغانستان د حکومت له سويې ډيره اوچته وه او دا پريکړه امريکا، ناټو او اروپا کړيده. ولی بايد ومنم چې اشرف غني جرئت کړی او زه يی ممنون يم) خو وليدل شول چې د حزب مشر د هغې ټلوالې د نظر ملاتړ وکړ چې څلور لسيزې يی ورسره په بله ژبه خبرې کولې او نن يی د هغه نظام د پيکه کولو هڅه وکړه چې د سولې د تړون په ورځ يی ده ته په ارګ کې سرې غالۍ غوړولې وې.
که د ايران او پاکستان دوو ورستنيو ولسمشرانو چوپتيا ته وګورو او بيا يی د پخواني ولسمشر ښاغلي کرزي سره پرتله کړو، نو واټن يی د سمندر هغو دوو څنډو ته ورته دی چې هيڅکله نه يوځای کيږي. د ايران احمدي نژاد او سيد محمد خاتمي او د پاکستان رفيق تارړ او آصف زرداري، اوس د تاريخ په ګمنامه ارشيف کې ځانونو له ځالې جوړې کړې او



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

ګونګي روژې يی نيولی دي. خو ښاغلي کرزي يواځې په تيرو پنځو کلونو کې دومره ليدنې، سفرونه او مطبوعاتي کنفرانسونه ورکړي چې د ارګ او سپيدار مانۍ يی په شريکه پارسنګی هم ندی. نو څومره خوند به يی کړی وو که هغه د خپلې شنې چپنې سره د يو څو ګړيو لپاره په وروستيو شيبو کې د جرګې تالار ته سر ورښکاره کړی وای او خدای زده چې په څومره اوږدو چک چکو به نازول شوی وو او څومره ناره تکبير به ورته زمزمه شوی وو؟!

که د ثور اوومه توره وه او اتمه يی شنه وه، نو نهمه يی ژيړه زرغونه را وخته. حتی بی پرې کتونکي او د تنظيمونو مخالف شنونکي پدی آند دی چې د جهادي مشر، ښاغلي پوهاند سياف دريځ رغنده، ملي او د شابسي وړ دی. نوموړي وکولای شول چې په ښه پراخه سينه او ځيرکۍ سره ددغو دری زرو او دوو سوو غړو لويه مشورتي جرګه په ډير مهارت سره اداره کړي. او په پای کې د يوې ملي اجماع په توګه د درويشتو بندونو داسی پريکړه ليک اعلان کړي چې ولسمشر هغه د خپل دولت د کړنلارې او عمل نخچه وبلله.

سوله يوه فريضه ده، يو باور دی، يوه غوښتنه او يوه اړتيا ده. له مخالف لوري سره روغه جوړه، کمزوري نه بلکې د شهامت او بهادري نښنه ده. ځکه مځکه هغه سوځي چې اور پری بليږي. سوله هغه ناوې غواړي چې د لاس نکريزې يی لا پاکې نه وي او د ميړه تابوت يی ور ته په دروازه کی پروت وي. سوله هغه يتيم غواړي چې د پلار غږ يی تر غوږو نه وي رسيدلی. سوله هغه سپين سرې مور او ملا کړوپې پلار غواړي چې لمسيان يی سبا بيګاه د ابا ابا نازولې نومونه ورته اخلي. سوله هغه څوک غواړي چې دا جنګ يی پرون هم د پردو باله او نن هم ورته اجنبي ښکاري. په سوله هغه څوک ټينګار کوي چې د ولس اراده ورته ارزښت لري او د سولې مخالفت هغه کسان کوي چې واک يی پردی او ګټه يی په جنګ کې وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ